Preview (1 / 10) - ketabton.com

# مه ګوښه کېږه!

حضرت عثمان نوري

Preview (2 / 10) - ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب ځانګړنې

کتاب نوم: مه ګوښه کېږه!

لیکوال: حضرت عثمان نوري

ډیزاین چارې: طیب الله نظیرزاده

چاپ کال: ۱۴۰۴ ل ل

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

خپرندوی: **سهار خپرندویه ټولنه**. جلال اباد

احساس خپرندویه ټولنه ـ جلال اباد

د دې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق د خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.

**د ترلاسه کولو پته:**

**سهار خپرندویه ټولنه**. اسحاقزی مارکیټ، لاندې پوړ، جلال اباد.

اړیکه: ۰۷۷۳۱۵۳۶۳۲/۰۷۷۹۲۷۳۳۴۵/۰۷۸۹۹۰۴۵۷۷

**احساس خپرندویه ټولنه** ـ اسحاقزی مارکېټ، لاندینی پوړ، جلال اباد ښار

کابل: اکسوس کتابپلورنځی، مازیګر کتابپلورنځی، علمي کتابپلورنځی، مستقبل کتابپلورنځی، سروش کتابپلورنځی، سمون کتابپلورنځی، جهان دانش کتابپلورنځی.

لغمان: قاري حبیب الله عزیزي کتابپلورنځی، چهارباغ بازار، مدینه مارکیټ.

خوست: رڼا کتابپلورنځي

پکتیا: علمي کتابپلورنځی، ماشاء الله کتابپلورنځی.

پکتیکا: مجاهد کتابپلورنځی

هلمند: تاج منور کتابپلورنځی.

Preview (3 / 10) - ketabton.com

# ډالۍ!

هغو ته چې د ځان جوړونې هنر ته يې کار ويلی.

(نوري)

Preview (4 / 10) - ketabton.com

# لــــړلــــیک

د مه گوښه کېږه! په اړه؛ ................................................ 1
د ځان جوړونې الهام.............................................................. 2
تر کوره يې غواړې؛ نه يې غواړې.............................................. 3
له شخړو د ځان ساتنې هنر................................................... 7
د ژوند د رغونې او پرمختګ لارښوونې........................................... 10
له ناهيلو ځان ژغورنه.......................................................... 12
څوک په مخه او څوک را خپل کړئ؟............................................. 14
څنګه ذهني تمرکز خپل کړو؟.................................................. 15
ماشومان؛ زموږ راتلونکی......................................................... 18
لنډ پاری؛ د بې واکۍ تاو ................................................. 23
د نفې درېغ؛ خپله د ځان که د نورو انزوا؟ ....................................... 26
عدل، انصاف او مساوات......................................................... 31
له ځانه؛ تر ځانه ............................................................ 36
د ژبې ځواک؛ د شخصيت او مديريت راز........................................... 40
نورو ته کتل؛ خپل ځان هېرول .................................................. 43
نه کار، هلته څه کار؟......................................................... 47
ځان څه ډول مطرح کړو؟........................................................ 53
د خير او شر د تفکيک لارې...................................................... 58
له احمق څنګه ځان بچ وساتو؟.................................................. 62
د خپل زړه سمه ساتنه په دې ډول وکړئ......................................... 64
مرگ او ژوند ................................................................... 65
څنګه خپل مسير سم کړو؟..................................................... 66
د دوه مخو خلکو رازونه او حقيقتونه............................................. 68
عدل او عدالت................................................................. 71
اخځليکونه..................................................................... 74

Preview (5 / 10) - ketabton.com



# د مه ګوښه کېږه! په اړه؛

معززو لوستونکو؛

په ژوند کې هر انسان له بېلابېلو ننګونو، خوښيو، ستونزو او برياوو سره مخ کېږي. د دې کتاب "مه ګوښه کېږه!" موخه دا ده چې تاسې ته د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې لارښوونې او مشورې وړاندې کړي، څو وکولای شئ له ستونزو سره په مؤثره توګه مقابله وکړئ او د بريا پر لور ګامونه واخلئ.

د کتاب سرليک "مه ګوښه کېږه!" موږ ته دا پيغام راکوي چې په ټولنه کې فعاله ونډه واخلو، له ګوښه کېدو او انزوا څخه ځان وساتو او د ژوند په بېلابېلو برخو کې مثبت بدلونونه راولو. په دې کتاب کې هڅه شوې چې د ژوند مختلفو اړخونو ته اشاره وشي، کوم چې ستاسې لپاره ګټور تمامېدای شي.

په دې کتاب کې به تاسې د شخړو د حل هنر، د ژوند د رغونې او پرمختګ لارښوونې، له ناهيليو څخه د ځان ژغورنې لارې، د ذهني تمرکز د ترلاسه کولو تخنيکونه، د ماشومانو په روزنه کې مهم ټکي، د لنډپارۍ او بې واکۍ حد، د عدل، انصاف او مساوات توپير، د ژبې ځواک او د شخصيت او مديريت ترمنځ اړيکه، له احمقانو سره د چلند لارې چارې، او د دوه مخو خلکو د پېژندنې او مخنيوي لارې چارې زده کړئ.

همدارنګه، په دې کتاب کې به تاسې زده کړئ چې څنګه خپل مسير سم کړئ، نورو ته ښېګه شئ، او د خير او شر ترمنځ تفکيک وکړئ. دا ټول موضوعات به تاسې سره مرسته وکړي چې په خپل شخصي او مسلکي ژوند کې مثبت بدلونونه راولئ او د بريا پر لور ګامونه واخلئ.

کتاب ښايي ستونزې او نيمګړتياوې ولري، د کوم څه له کبله چې زه وار دمخه بښنه غواړم او که د اصلاح په موخه يې راسره د کتاب په ذکر شوي بريښناليک پته شريکې کړئ، د مينې او سلوک به مو پوروړی شم.

ژوند مو له خوښيو او نېکمرغيو برخمن شه.

په درنښت،

حضرت عثمان نوري | د کتاب ليکوال

مزار شريف ((۱/حمل/۱۴۰۴))

Preview (6 / 10) - ketabton.com



# د ځان جوړونې الهام

مه ګوښه کېږه کتاب "مه ګوښه کېږه!" د ځوان لیکوال حضرت عثمان نوري لخوا لیکل شوی ارزښتناک اثر دی چې په کې د ژوند بېلابېلو اړخونو ته ژورې او عملي لارښوونې وړاندې شوي دي. په دې وروستیو کې د ځوانو لیکوالو دا ډول هڅې چې عملي جنبه ولري، ډېر ګټور تمام شوي او اړتیا هم ده چې پر طبیب څه تېر شوې وي، هغه مهم او صحت وبولي.

د دې کتاب لوست موږ ته پیغام راکوي، چې په ټولنه کې فعاله ونډه واخلو، له ګوښه کېدو او انزوا څخه ځان وژغورو او د ژوند د ځلورو فصلونو سره ځان ځنګه عیار او روږدی کړو. "مه ګوښه کېږه!" یوازې د یوه کتاب نه دی؛ بلکې دا د ژوند د پرمختګ یوه لارښود دی چې هر فرد ته په خپل شخصي او مسلکي ژوند کې د بریا ترلاسه کولو لپاره عملي مشورې او تخنیکونه وړاندې کوي.

دا کتاب د هغو کسانو لپاره یوه الهام بخښونکې سرچینه ده چې غواړي خپل ژوند کې مثبت بدلونونه راولي او خپل هدف ته په سمه لاره وده ورکړي.

د ښاغلي نوري دې ډوډۍ ګرمه او اوبه دې یې یخې وي چې دا ډول اثار پنځوي. دی لا ځوان دی او تمه ده دا ډول نور اثار هم ژر تر تاسې ورسوي.

مینه او درناوی

امین الله مندیزی | پکتیکا - ښرنه

Preview (7 / 10) - ketabton.com



## تر کوره يې غواړې؛ نه يې غواړې

بريمن ژوند د چا نه دی خوښ؟ څوک دا نه غواړي چې ښه ارام او سوکاله ژوند دې ولري، تر نورو دې ښه وګرځېږي، ښه راکړه ورکړه دې ولري او په ټوله کې دې مړی – ژوندی هم تر نورو په متفاوته توګه وپالي، خو دا اسان کار نه دی او يوازې زموږ ارمان دی، چې لرو يې، خو د عمل لپاره يې بيا هېڅ نه کوو.

ژوند په متقابل درناوي او ارزښت ولاړ دی، خو که يې ونه لرئ، درته يې نه لري، که دې يو وار ورسره ښه پالل، درسره پالي يې، که دې ورسره ونه پالل، ښايي ډېر داسې خلک وي، چې هېڅ يې درسره ونه پالي، مګر په ډېر کم شمېر خلک به داسې وي، چې پښتونولي به شاته اچوي او اسلاميت ته به لومړيتوب ورکوي، چې دا د اسلام حکم هم دی، که چا درسره نه پالله، تاسې يې ورسره پالئ، دا چې يو په ناسمه لار دی، دا نو بايد په دې معنی نه وي، چې تاسې هم ورسره له سمې لارې واوړئ او د هغوی د پل د پاسه خپل پل ور کېږدئ، بيا نو توپير څه شو؟ د ښه او بدو تفکيک بيا له کومه کړو؟

هر انسان چې غواړي، په ټولنيز ژوند کې بريمن شي، بيا نو اړ دی، څو لاس تر زنې کېناستل خو همدا اوس پای ته ورسوي، د خپلو کارونو د ترسراوي لپاره ولټېږي، تنبلي ليرې وغورځوي او په ټوله کې د بوختياوو لپاره همدا اوس پاڅېږي، سرې کربښې وڅاري او راتلونکي خوښ ژوند ته په هيله مندۍ په چارو لاس پورې کړي.

که دې ته په تمه ياست، چې بريا دې درته تر کوره راشي او په ټوله کې دې له نورو ښه او متفاوت ژوند ولرئ، بيا نو ښه ده چې دا خبرې روان بحر ته وکړئ،

Preview (8 / 10) - ketabton.com



اوبه دي، هسې هم بې درېغه بهېږي، نه ستا پروا کوي، نه ستا د خبرو؛ ته ور ته غږېږه، نه به څه واورې، نه به څه ترلاسه کړې، فقط یو کار وشو او هغه ستا ناوړه فکر و چې ته یې په مخه کړی وې او دې ناسم کار ته یې اړ کړی یې. بحر دی، که ته یې او که ته نه یې، در څخه روان دی، ستا په خبرو هېڅ رپ لا نه وهي، نه ښوروي او نه اوري، په خپل حساب - کتاب بې درېغه روان دی، همدا بېلګه د ټولنیز ژوند هم ده، لکه د روان بحر چې تا ورته خبرې کړې او هغه پرې لا سر نه دی ښورولی، که همدا ډول ته هم د نورو بې ځایه، بې ګټې او ناوړه خبرې شاته وغورځوې، کیسه کې یې لا نه شې او په ټوله کې چټیات وبولې، په ډېرې ارامۍ به مختنه ولاړ شې، داسې چې لا وایې به او خپله به اعتراف کوې، چې (دا برېمن او ګټیالي خلک ځکه بریالي کېږي، چې دوی د چا په اخوا دېخوا او کیسو - بودو پسې نه ګرځوي.)

که دا کار وکړې، ایله به د سکون او ارامۍ ژوند خپل کړې؛ بیا به نورو ته هم نصیحتونه کوې، چې دا کار مه کوه او دا کار وکه، دا داسې وکړه او هغه هغسې، دا کار ښه دی او دا ښه کار نه دی. صېبه ژوند به دې ایله د رڼا ګانو کوربه شي، بیا به نو د برېښنا فابریکه یې، نورو ته به رڼا ورکوې، خپله خو به هسې هم نور یې، کوه نور.

نو بریالیتوب او برېمن ژوند ژوند د چا تر کوره نه دی ورغلی، برېمن خلک ورپسې له کوره وتلي، زحمتونه او خوارۍ یې کښلي، پر ځان یې شپه اور ورځ تفریح حرامه کړې، په ځان یې لا زړه نه دی سېزلی او کار ته یې کار ویلی، بیا توانېدلي، بیا یې ګټې - وټې کړي، بیا یې سکون ترلاسه کړی او ایله د ژوند په خوند او رنګ پوهه شوی. تاسې هم په ځان زړه دومره مه سېزئ، چې له بریاوو

Preview (9 / 10) - ketabton.com



مو را وګرځوي، ځان دی د همدې لپاره چې تاسې ترې ګټه واخلئ، انرژي ده لرئ يې، نو بيا ښه ده چې ګټه يې ورڅخه واخلئ.

دا چې برياليو اشخاصو د خپلو برياليتوبونو لپاره ځومره زحمت ويستلی، ځومره ربړې، لوړې او ژورې يې ګاللي دي، ښايي دا لا مثاله وي او يو ډول تاسې فکر وړي کړي، ښه ده چې د البرټ اينسټاين په هکله درته يو ځغلنده شاليد وړاندې کړم.

البرټ اينسټاين، چې نن ورځ د نړۍ له تر ټولو لويو ساينسپوهانو څخه ګڼل کېږي، د خپل ژوند په پيل کې له داسې ننګونو سره مخ و، چې ډېر خلک يې پر وړاندې تسليمېږي. هغه يو ارام او کم‌حرفه ماشوم و، چې تر څلور کلنۍ يې لا سمې خبرې نشوای کولی، او د ښوونځي استادانو خو به ورته لا ويل چې دا هلک به هيڅکله بريالی نشي. د رياضي او فزيک سره يې ځانګړې مينه درلوده، خو کله چې يې د سويس د فدرالي ټکنالوژۍ انسټيټيوټ ته د داخلې ازموينه ورکړه، بدمرغۍ پسې واخيست او ناکام شو. دا د هغه لپاره يوه لويه ضربه وه، خو بختور په دې و چې تسليم نه شو، د دويم ځل ازموينې ته يې کار وکړ، زحمت يې وويست او هغه څه چې اړتيا وه، ترسره يې کړل، بالاخره يې ازموينه ورکړه او بريالی شو. کله چې فارغ شو، هيڅ پوهنتون يا علمي موسسې ورته دنده ورنکړه، ځکه استادانو باور نه درلود چې دی به يو ښه ساينسپوه شي. دې سختو شېبو دې ته اړ کړ، چې د يوې محاسبې ادارې (Patent Office) کې دنده واخلي، خو د شپې ناوخته به يې خپل يادداشتونه ليکل، خپل نظريې به يې څېړلې، او د نړۍ د فزيک پر هغه لوی راز يې فکر کاوه، چې تر هغه وخته چا لا نه و موندلی.

Preview (10 / 10) - ketabton.com



په ۱۹۰۵ زیږدیز کال کې، کوم وخ چې د نړۍ هېڅ ستر پوهنتون  د هغه نوم نه لا نه پېژانده، اینسټاین یوه مقاله خپره کړه چې "ځانګړې نسبیت نظریه" نومېده. دا مقاله د فزیک نړۍ ته د یوه طوفان په څېر راغله، یو نوی انقلاب یې په غبړه کې را نغاړلی و. ځکه دا یې ثابته کړه چې فضا او وخت ثابت نه، بلکې نسبتي دي. دا یو داسې فکر و، چې د نیوټن له درې سوه کلن قوانین سره ټکر و، او د نړۍ پوهان یې ورته لا حیران کړل. وروسته، اینسټاین ته د نړۍ له مختلفو پوهنتونونو د تدریس بلنې راغلې، خو نوموړی لا هم د نوښتونو په تکل و، په ۱۹۲۱ زیږدیز کال کې وتوانېد چې د فزیک نوبل جایزه وګټي.

د هغه ژوند موږ ته دا درس راکوي، چې ناکامي یوازې د یوې وقفې مانا لري، نه د پای. که چیرې اینسټاین د خپل ژوند د لومړیو ناکامیو پر وړاندې تسلیم شوی وای، نن به موږ د نسبیت نظریه، د فزیک پرمختګونه، او د نړۍ د علمي ودې ستر بدلونونه نه درلودل. د هغه سفر موږ ته دا ښیي، چې که ذهن ازاد وي او که یو انسان خپله لاره پیدا کړي، نو دنیا ته نوي فکرونه، نظریات، او انقلابونه راوستلی شي. (۱)

---

۱. **Isaacson, W. (2007).** *Einstein: His Life and Universe.* Simon & Schuster.

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/xPUAqeDYqKj

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.